څېړونکی: پوهندوی حسام الدین رحیم زی
شیخ زاید پوهنتون شرعیاتو پوهنځی
د فقه او قانون څانګې استاد
اړیکې: 0777101518/ 0781161313 /hisamudinrahimzai@gmail.com

# په اسلامي شریعت کې د چاپېریال ساتنې مقام او ارزښت

**لنډیز**

د اسلام سپیڅلی دین مسلمانان تل پاکې او سالمې ټولنې جوړېدو ته هڅولي دي؛ ځکه چې الله تعالی ته په ټولنه کې هغه څوک زیات خوښ دی، چې په هر اړخیزه توګه پاک وي او هم يې خپله ټولنه پاکه ساتلې وي.

اسلامي شریعت د پاکۍ او نظافت په اړه زیات ټېنګار کړی دی، لکه، چې جوته ده پاکي( د بدن، هوا، خاورې، اوبو، او د چاپېریال ساتنې) په اړه، چې دنیاوي او اخروي ګټې پکې نغښتې دي، د پاکوالي په اړه اسلام خاصې عملي څرګندونې کړې دي، چې د نن ورځې یوه ډېره اړینه موضوع هم ګڼل شوې ده. له شک پرته، چې د اسلام پاک او بشپړ دین په پاکوالي دومره زیات ټینګار کړی، چې د بدن، کالیو او ځای د پاکوالي پرته د الله تعالی پر وړاندې ودرېدل (لمونځ ) هم جواز نه لري؛ د ټولنې، کالیو او د بدن پاکوالی نه یوازې دا چې د اسلام حکم دی؛ بلکې د یوې خوا د بدن د غړیو ښکلا پکې نغښتې ده او له بلې خوا د بدن د غړیو روغتیا هم پکې نغښتې ده؛ ځکه هغه مهال، چې د بدن غړي په پاکو اوبو پرېمنځل شي؛ نو هغه خاورې، ګرد، غبار او جراثیم، چې د بدن غړي پرې ککړ دي په بشپړه توګه به پاک شي او انسان به د دې توکو د احتمالي ناروغیو څخه وژغورل شي، ځکه چې زیاتې ناروغۍ د چاپېریال د ناپاکۍ له امله پیدا کېږي.

**کلیدي ټکي:** په اسلام کې چاپېریال ساتنه، د پاکوالي فلسفه، وقایوي درملنه

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علي سید الأ نبیاء والمرسلین محمد و علي اله و اصحابه اجمعین.

قال الله تعالی: (إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ) (۱: البقرة: ۲۲۲).

وبعدا! د ټولنې افراد تل باید د پاکوالي او چاپېریال ساتنې خیال وساتي؛ ځکه چې الله تعالی په ټولنه کې هغه څوک زیات خوښوي، چې په هر اړخیزه توګه پاک وي، په دې اړه الله تعالی فرمايي: (إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ). (۱: البقرة: ۲۲۲).

ژباړه: له شک پرته، چې الله توبه کوونکي خوښوي او هم هغه کسان خوښوي، چې ځانونه پاک ساتي.

همدا ډول الله تعالی په قرآن کریم کې د پاکوالي په اړه په بل ځای کې فرمايي: (وثیابك فطهر) (۱: المدثر: ۴).

ژباړه: او خپلې جامې پاکې وساته.

د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سپیڅلیو ویناوو له مخې هم پاکوالی د ایمان برخه بلل شوې ده، په ځینو نبوي احادیثو کې د لمانځه کیلي بلل شوې ده ، په دې اړه د انسانیت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمايي: ( الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ)(۱۳: ۱۱۸).

ژباړه: پاکوالی د ایمان برخه ده.

په اسلام کې پاکوالی یوازې د کالیو پاکوالی په خپله غبره کې نه رانغاړي؛ بلکې پاکوالی د یوه مسلمان وګړي کالیو، د اوسېدو ځای او د پاک چاپېریال ټولو اړخونو ته شاملېږي.

د اسلام دین د پاکوالي فلسفه د فردي پاکوالي څخه نیولي بیا د فزیکي، ټولنیزې، بیولوژیکي، او په لویه کې د مړي او ژوندي نړۍ ټول پاکوالی په برکې نیسي.

**د څېړنې موخې**

لوستونکي به په دې وتوانېږي، چې:

۱- د اسلامي شریعت له انده د پاکوالي په ارزښت به پوه شي.

۲- د ټولنې د پاکوالي په ګټو او فلسفه به پوه شي.

۳- د وقایوي درملنې په اسبابو به پوه شيي.

**د کار توکي او کړنلاره**

ما د خپل تحقیق او څېړنې په اوږدو کې داسې تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې لومړی د الله تعالی سپېڅلي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې، چې اساس یې لومړی په قرآن کریم کې ولټوم، ورپسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده.

همدا راز ما د لیکنې په اوږدو کې د کتابخانه یي کړنلارې څخه ګټه اخېستې ده، چې په دې کړنلاره کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهې مستندو، باوري او د اعتبار وړ ماخذونو ته مراجعه کړې ده او ګټه مې ترې اخېستې ده.

دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د پښتو ژبې ټول معیارونه مې په نظرکې نیولي او تطبیق کړي دي.

**د پاکوالي لغوي او اصطلاحي څېړنه**

د موضوع د لا څېړنې په موخه اړینه بولو، چې لو مړی د پاکوالي، چې په عربي ژبدود کې ورته (طهارت) وایي د لغوي او اصطلاحي څېړنې لاندې ونیسو!

**لغوي څېړنه:** پاکوالی، چې په عربي ژبدود کې ورته طهارت وایي، طهارت د ( طا) په پېښن سره له هغه شي څخه عبارت دی، چې پاکي پرې حاصلېږي، لکه اوبه، د (طا) په زیر سره د نظافت او پاکوالي (آلې) څخه عبارت دی، او د (طا) په زور سره ( مصدر)دی، چې پاکوالي ته وایي.

او په اصطلاح کې: طهارت د نجاست د پاکوالي څخه عبارت دی، هغه که حقیقي (د لیدو وړ) ناپاکي وي، لکه (غلیظه او خفیفه) نا پاکي او که حکمي نا پاکي وي، لکه: وړه او لویه بې اودسي (۲: ۶۲).

له پورته تعریف څخه معلومه شوه، چې پاکوالی په دوه ډوله دی: لومړی له حقیقي نجاست څخه پاکوالی؛ حقیقي نجاست هغه دی، چې په سترګو لیدل کېږي او بدن پرې ککړ وي، که پر کالیو او یا پر ځمکه شتون ولري.

دویم د حکمي نجاست څخه پاکوالی، حکمي نجاست له هغه نجاست څخه عبارت دی، چې په بدن پرې ځانګړی دی، هغه که وړه بې اودسي وي او که لویه بې اودسي وي، لنډه دا چې (خُبث) له حقیقي پلېتۍ څخه عبارت دی او (حدث) له حکمي پلېتۍ څخه او یا حقیقي پاکوالی د حقیقي ناپاکۍ له منځه وړلو څخه عبارت دی او حکمي پاکوالی د اودسه، غُسل او تیمم څخه عبارت دی.

یا په بل عبارت: طهارت مصدر دی د نجاست ضد دی، د پاکوالي په معنا. او په اصطلاح کې (النظافة المخصوصة المتنوعة الی وضوء، وغسل والتیمم، وغسل البدن والثوب ونحوه) طهارت د هغه ځانګړي نظافت او پاکوالي څخه عبارت دی، چې اودس، غسل، تیمم او هم د بدن کالیو او دې ته ورته نورو وینځلو ته ویشل کېږي (۱۲: ۵ ).

**د پاکوالي شرعي حکم**

اسلامي شریعت په اسلامي ټولنه کې هر اړخیز پاکوالی واجب کړی دی، چې په ترک سره یې ټولنه د عذاب وړ ګرځي. ( ۹: ۹۱).

**په اسلام کې د پاکوالي او چاپېریال ساتنې اهمیت او فلسفه**

**الف- اهمیت**

په اسلام کې پاکوالی او د چاپېریال ساتنه خورا لوی ارزښت لري، همدا لامل دی، چې د فقهې په ټولو کتابونو کې لومړنی پاکوالی څېړل شوی دی، پاکوالی د ټولنې د هر وګړي کالیو، د اوسېدو ځای او د پاک چاپېریال ټولو اړخونو ته شاملېږي.

د بشریت سترلارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ځېنو سپېڅلیو ویناوو کې د دین بنسټ بلل شوی، لکه په دې نبوي حدیث کې: (بُنِيَ الدِین عَلی النِظَا فَةِ)، یعنې دین په پاکوالي ولاړ دی، په ځېنو نبوي حدیثونو کې د ایمان نیمه برخه بلل شوې ده، لکه: په دې نبوي حدیث کې: (الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ) (۱۳: ۱۱۸).

یعنې پاکوالی د ایمان جز دی. یاپه دې نبوي سپېڅلي وینا کې: (الطهور نصف الایمان)( ۷: ۱۹۰)

یعنې پاکوالی د ایمان نیمه برخه ده، په ځېنو کې پاکوالی د لمانځه کیلي بلل شوې ده، لکه په دې نبوي صلی الله علیه وسلم سپېڅلي وینا کې: (مفتاح الصلاة الطهور)( ۱۰: ۴۰ )

د پاکوالي د ارزښت په اړه نبي علیه السلام په بل ځای کې فرمایي: عن قتادة قال: قال رسول الله صلی الله علیه و سلم: لا یقبل الله صلاة إلا بطهور ولا یقبل صدقة من غلول (۱۱: ۱۰۰).

ژباړه: له حضرت قتاده رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله تعالی د طهارت پرته لمونځ نه قبلوي او هم الله تعالی په هغه مال کې صدقه نه قبلوي کوم، چې په غنیمت کې د خیانت په ذریعه لاسته راغلی وي.

له دې ټولو نبوي احادیثو څخه څرګنده شوه، چې په چاپېریال کې پاکوالی دومره اړین دی، چې د ایمان برخه ګڼل شوې ده، د لمانځه کیلي بلل شوې ده؛ حتی که څوک پاک نه وي د الله تعالی پر وړاندې مخ پر قبله نه شي ودرېدای، یعنې لمونځ یې درست نه دی.

**ب- په اسلام کې د پاکوالي فلسفه او حکمتونه**

اسلامي شریعت تل په دې ټینګار کوي، چې مسلمان باید د هر اړخیزو چټلیو او پلیتیو څخه پاک وي؛ هغه که د بدن او کالیو له حقیقي ناپاکیو څخه وي، که له حکمي پلیتیو څخه وي، عارضي وي او که اصلي، داخلي وي، لکه: حیض، نفاس، مني، وینه، زوي، غایطه مواد، ادرار، او دې ته ورته نور...او که خارجې ناپاکي وي، لکه: دوړې، ګرد غبار او دې ته ورته نور د چاپېریال ناپاکوالی.

او که د معنوي ناپاکیو څخه پاکوالی وي، لکه: د حسد، د مسلمان سره د دوکې، خیانت او دې ته ورته نورو څخه پاکوالی.

اسلامي شریعت د بشریت د ژوند د هر اړخیز نظام جوړښت ته بشپړه توجه لري، په خپلو احکامو کې یې د بشریت ښکلا، پاکوالی، روغتیا، اقتصاد او دې ته ورته نور هغه توکي کوم، چې د بشریت د ژوند په اوږدو کې ګټور دي، په پام کې نیولي دي.

د اسلامي شریعت د پاکوالي په حکم کې د یوې خوا د لمانځه د صحت کلي بلل شوې ده، له بلې خوا د بدن د غړیو ښکلا پکې نېغښتې ده او له بلې خوا په بشپړه توګه روغتیا هم پکې نېغښتې ده؛ څکه هغه مهال، چې د بدن غړي په پاکو اوبو پرېمنځل شي؛ نو هغه خاورې، ګرد او غبار او جراثیم، چې د بدن غړي پرې ککړ دي په بشپړه توګه به پاک شي او انسان به د دې توکو د احتمالي ناروغیو څخه وژغورل شي، لکه: د طبي پوهانو په وینا ځینې جلدي ناروغۍ( Skin Disease )، چې د غړیو د پاک ساتلو په ذریعه یې وقایه کېږي.

د کفري نړۍ د پوهنتونو طبي څېړونکو د هغو انسانانو، چې اودسونه کوي او خپل لاسونه، بدن، خوله او پوزې پرېمنځي او پاکوي یې او لمنځونه کوي او د هغو انسانانو، چې اودسونه او لمونځونه نه کوي، ترمنځ یوه مقایسوي څېړنه وکړه؛ نو د څېړنې په پایله کې ورته جوته شوه، چې د روغتیا له اړخه هغه کسانو، چې اودسونه کوي، د بدن غړي پاک ساتي د هغو کسانو په پرتله چې اودسونه او لمنځونه نه کوي، د بدن غړي د ساري ناروغیو او له جراثیمو خالي وي.

د چاپېریال پاکوالی او هم د بدن د غړیو پاکوالی د احتمالي ناروغیو وقایه ده، لکه په دې وینا کې: ( أَلْوِقَايَةُ خَيْرٌ مَنَ الْعِلَاجِ )، یعنې د ناروغیو وقایه د درملنې څخه غوره ده.

دا چې د انسان هر اړخیز پاکوالی او هم د چاپېریال پاک ساتل د وقایوي درملنې یوه برخه ده؛ نو اړینه ده، چې په لاندې ډول د وقایوي درملنې په هلکه یو څه یادونه وکړو.

**په اسلام کې وقايوي درملنه (وقایوي طب)**

الله جل جلاله خپلو بندګانو ته په خپل همېشني کتاب قرآن کریم کې د وقایوي درملنې په هکله داسې لارښوونې کړي دي، چې د هغو په عملي کولو سره انسان له ډول ډول ناروغیو څخه محفوظ پاتې کېدلای شي او د هغه بدني روغتیا ته هېڅ ډول احتمالي او عارضی ناروغی نه رسېږي او له هغوی څخه په امن کې پاتې کېدای شي.

د وقایوي درملنې په هکله د الله تعالی د لارښونو له جملې څخه: ۱- په خوراک او څښاک کې اعتدال. ۲- د شرابو حراموالی. ۳- پاکوالی او سالم چاپېریال. دربیم زموږ د بحث وړ موضوع ده، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو:

په قرآن کریم کې د وقايوي طب له اصولو او احکامو څخه هر اړخیز پاکوالی دی؛ هغه که د چاپیریال پاکوالی وي او که د بدن د ټولو غړیو پاکوالی وي، چې د ارزښت او اهمیت په هکله مو په وړاندې بحثونوکې څېړنه کړې ده.

هدف دا چې د وقایوي درملنې په توګه له ناروغیو څخه د ساتنې په خاطر قران کریم د بدن، کالیو، کور او چاپېریال، پاکي او نظافت فرض کړی دی؛ هغه دی چې که د بدن او کالیو له حقیقي ناپاکیو څخه وي، که له حکمي ناپاکیو څخه وي، عارضي وي او که اصلي، داخلي وي، لکه: حیض، نفاس، مني، وينه، زوي، غایطه مواد، بولې او دې ته ورته نور...او که خارجي ناپاکي وي، لکه: دوړې، ګرد، غبار او دې ته ورته نور...طبي پوهان د پورتنیو ټولو ناپاکیو د بدني، کورني، محیطي او کالیو په هکله څېړنه کړې ده، چې په نتیجه کې یې دا ثابته کړې ده، چې د دغو ټولو ناپاکیو په نتیجه کې ډول ډول مهلک امراض پیدا کېږي، چې یو څو یې د نمونې په ډول بیانولای شو:

**بدني ناروغتیاوې**

د بدن په روغتیا او ناروغتیا کې د بدن پوستکی ډېر مهم رول لري؛ څکه چې د جسم پوستکی دوه طبقې لري: یوه داخلي طبقه او بله خارجي طبقه ده.

په داخلي طبقه کې د خوالو غودې( sweat gland) دي، چې د هغوی قناتونه د پوست په خارجي طبقه کې وي.

نو کله چې کوم انسان د ګرمی او یا د کار له امله خواله وکړي د دغو غدو له لارې د بدن د سوریو له لارې مالګې بهر ته راباسي او زیات شمېر زهرجن مواد هم ورسره وځي، چې د هغو وتل د بدن د روغتیا لپاره ډېر اړین دي، بیا د دغې خوالې اوبه کله، چې وچې شي، یا د طب په اصطلاح کې په بُخار بدلې شي؛ نو أملاح او دسومات د بدن په بهرنی طبقه پاتې شي له دې سره سره د بدن د غوړوالي او لوندوالی له امله دوړې او لوګي هم پرپوستوکي باندې کیني او د پوستوکي ظاهري طبقه خبرنه شي د غدو سوري بند شي او د خوالو غدې، چې په بدن کې د جسمي حرارت د تنظیم کولو دنده په غاړه لري له خپل فعالیت څخه وغورځېږي.

نو که چېرې د بدن لباس پر تطهیر او نظافت کوم، چې د لمانځه لپاره شرط دي اقدام ونه کړای شي؛ نو د دغو جسمي غدو د انفعال په سبب بدن راز راز ناروغیو اخته کېږي او بیا په خاصه توګه، چې لاسونه خبرن وي؛ نو د معدې زیاتره د مهلکو امراضو لامل ګرځي؛ څکه چې ډېرې ناروغی د لاسونو د چټلتیا له کبله له یوه انسان څخه بل انسان ته لېږدول کېږي او په دې کې د ځيګر ویروسي التهاب، کولرا، پېچ او امیب او د کولمو التهاب شامل دی، چې دا ټولې خطرناکې ناروغی دي، له دغو ناروغیو ګڼ شمېر کسان مري او ځان ترې ساتل هم د چاپیریال او ځان په پاکوالي پورې اړه لري. له همدې امله طبي پوهان لږ ترلږه په اونی کې دوه ځلې د بدن پاک پرېمنځلو او د لاسونو له هر خوراک او څښاک څخه وروسته د پاک وينځلو او هم د چاپېریال د پاک ساتلو ټینګار کړی دی؛ څو له دغو ناروغیوڅخه وساتل شي؛ لیکن قرآني وقايوي طب په ورځ کې د اړتیا له مخې پنځه ځلې او یا اقلاً درې ځلې د لاسونو، مخ پوزې، غوږونو، په مینځلو حکم کړی دی او فرمایلي دي:

﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوااِذَاقُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُواوُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوابِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ (المایده: ٦).

ژباړه: اې مومنانو! هر کله چې تاسو د لمانځه د اداء کولو لپاره د پاڅېدلو اراده وکړئ؛ نو خپل مخونه پرېمنځئ او خپل لاسونه له څنګلو سره پرېمنځئ او په خپلو سرونو باندې مسح وکړئ او خپلې پښې سره د خنګرو پرېمنځئ)

په دغه همېشنی حکم کې همدغه حکمت دی کله، چې پنځه ځلې اندامونه ومېنځل شي؛ نو پر دغو اندامونو خېري باقي نه پاتې کېږي او بدن له هغو ناروغیو څخه محفوظ پاتې کېږي، چې د خیرو د شتون په صورت کې جسم ته پېښېږي (۳: ۵۲).

**د کور او چاپېریال ککړتیا**

که چېرې د خونې اطاقونه، انګړ، دېوالونه، د خوراک او څښاک لوښې، د څملاستې بسترې، د څملاستې ځایونو او په ټوله کې د کور چاپېریال نظیف نه وي؛ نو د هغوی د چټلتیا په صورت کې د کورنی او ټولنې غړیو ته ډول ډول ناروغۍ پیدا کېږي، چې طبي پوهان یې په لاندې توګه رابښيي:

۱- انفلونزا.

۲- ټوخی.

۳- شرې.

۴- درب او دې ته ورته نورې ناروغۍ ترې پیدا کېږي.

له همدې امله طبي پوهانو د کور، ظرفونو او په ټوله کې د کورنۍ چاپېریال پر نظافت باندې له دغو امراضو څخه د ساتنې په خاطر زیات ټېنګار کړی دی. همدا راز نور زښت ډېر امراض د چاپېریال د ککړتیا څخه را پیدا کېږي، چې د بشري ټولنې د هلاکت باعث ګرځي، له همدې امله مهربان الله جل جلاله حکم کړی دی، چې هر ډول چټلی او نجاست ترک کړای شي، طهارت او نظافت انفرادي وي او که اجتماعي له امراضو څخه د رغونې په خاطر عملي کړای شي؛ څو د اسلام د وقایوي طب د دغې همېشنی نسخې په عملي کولو سره ټولنه صحیح او سالم ژوند وکړي (۳: ۵۳).

همدا ډول د پاکوالي د فلسفې او حکمتونو په لړ کې که موږ د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سپېڅلیو سنتو ته متوجه شو؛ نو له شک پرته، چې د یو لړ حکتونو څخه به خالي نه وي، د بیلګې په توګه: که په اودسه کې سنت مطالعه کړو؛ نو دا به راته په ډاګه شي، چې له فلسفې، حکمت او طبي ګټو څخه خالي نه دي، لکه:

۱- په اودسه کې د لاسونو وینځل سنت دي، په دې اړه د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلاَ يَغْمِسْ يَدَهُ فِى الإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلاَثًا فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِى أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ( ۱۳: ۱۶۰).

ژباړه: له حضرت ابي هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی وایي، چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: هغه مهال، چې سړی له خوبه پاڅي؛ نو تر هغه مهاله دې په لوښي کې لاسونه نه ډوبوي؛ څو چې درې ځلې یې پرېمنځي؛ ځکه چې دا په دې نه پوهېږي، چې لاسونو یې د بدن کومه برخه لمس کړې ده.

د دې معنا دا ده، چې د پاکوالي نه وروسته یو څه مهال تېرېدل او په دې مهال کې پاکوالي ته توجه نه کړل؛ نو ګمان کېږي، چې لاسونه یې په ناپاکیو نه وي ککړ شوي. که له خوبه د را پاڅېدو وروسته پاکوالی په نظر کې ونه نیسو؛ نو شوني ده، چې د اوبو د ناپاکۍ باعث به وګرځي.

د طبي پوهانو په وینا: ډېری ناروغۍ د لاسونو د چټلتیا له کبله له یوه انسان څخه بل انسان ته لېږدول کېږي او په دې کې د ځیګر ویروسي التهاب، کولرا، پېچ او امیب او د کولمو التهاب شامل دی، چې دا ټولې خطرناکې ناروغۍ دي، له دغو ناروغیو ګڼ شمېر کسان مري او ځان ترې ساتل هم د چاپېریال او ځان په پاکوالي پورې اړه لري.

۲- په اودسه کې مضمضه: (تَحرِيكُ المَاءِ فِى الفَمِ) د اوبو ښورول په خوله کې (د خولې وینځل)سنت دي.

د طبي پوهانو په وینا د خولې پرېمنځل د انسان خوله له التهاب او چرک نیولو ژغوري.

۳- همدا ډول په اودسه کې مسواک کارول سنت دی، د مسواک د نه شتون په صورت کې د (ګوتې) کارول. د مسواک د کارونې د فضیلت په اړه د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي: عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل صلاة ( ۱۱: ۲۵).

له حضرت ابي هريرة رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی وايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: که چېرې زما امت ته سخته نه وه؛ نو ما به دوی ته امر کړی و، يعنې: په دوی به مې دا فرض کړي وو، چې د هر لمانځه لپاره مسواک وکاروئ.

همدا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم په بل ځای کې فرمايي: أَلسّواكُ مُطهِرَةٌ لِلفَمِّ مرضاةٌ لِلرّبِ. ( ۴: ۳۳۱).

ژباړه: مسواک کارول د خولې پاکوالی او د الله تعالی د خوښۍ وړ گرځي.

د طبي پوهانو په وينا: د خولې مينځل او د غاښونو پاکول، غاښونه له رژېدو خوندي کوي، ځکه چې په غاښونو کې د خوړو پاتې شوني بندېږي؛ طبي څېړنو ثابته کړې، چې د زياترو کسانو غاښونه له وخت وړاندې لوېږي يا خرابېږي، معمولاً خپلې خولې پاکې نه ساتي، ځکه چې د خولې منگ نېول، په سوريو کې خواړه او نور خوارکي توکي پاتې کېدل د گڼو ناروغيو سبب کېږي، د دې ټولو درملنه د اودسه پرمهال د غاښونو په پا کوالي کې نېغښتې ده.

۴- همدا ډول په اودسه کې د پوزې پاکول سنت دي.

فلسفه يکې دا ده، چې نبي عليه السلام فرمايي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَتَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثًا فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيْشُومِهِ) (۵: ۳۴۶).

ژباړه: له حضرت ابي هريره رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی وايي، چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: هغه مهال، چې يو د تاسو له خوبه پاڅي، پس اودس دې وکړي او درې ځلې دې پوزه ووينځي؛ ځکه چې شيطان د انسان د پوزې په خَيشوم کې شپه تېروي.

د دې معنا دا ده، چې د شپې د تېرېدو وروسته په پوزه کې غليظ مواد جمع کېږي، چې اغېزه يې په ذهن پرېوځي، چې په ترخ کې يې شيطان د هغه په زړه کې ډول ډول د وسوسو د اچولو موقع برابروي (۸: ۳۲۷).

همدا ډول د يو لړ طبي څېړنو وروسته جوته شوې ده، چې پوزه د گڼو پلېتيو او جراثيمو ځاله ده او د پوزې پاکوالی د گڼو جراثيمو له خطرناکو ناروغيو څخه انسان ژغوري. دا هم ثابته شوې ده، چې په ورځ کې پنځه ځلې د اودسه پرمهال د پوزې مينځل او پاکول د انسان د روغتيا لپاره زياته گټه لري. هغه څوک، چې په ښه ډول اودس وکړي او په پای کې په لاندې نبوي حديث کې دعا ولولي:

عن عمر بن الخطاب قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم من توضأ فأحسن الوضوء ثم قال أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين فتحت له ثمانية أبواب الجنة يدخل من أيها شاء).(٦: ٩).

ژباړه: له حضرت عمر رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې په غوره طريقه اودس وکړي او بيا ووايي: زه گواهي ورکوم، چې الله جل جلاله يو دی شريک نه لري او محمد صلی الله عليه وسلم د هغه رسول دی يا الله! موږ د توبه ايستونکو او د ټولنې د پاکو وگړيو څخه وشمېرې؛ نو دې دعاپه ويلو سره به ورته د جنت اته دروازې خلاصې شي، له کومې دروازې چې وغواړي جنت ته به ننوتلی شي.

فلسفه يکې دا ده، چې په دې دعا سره سرښېره پر دې، چې غړي يې د ناپاکيو څخه پاک شوي دي، باطن به يې هم پاک شي؛ نو د الله سره به د مخامخ کېدو پر مهال په ظاهري او باطني په دواړه له حاظه پاک وي (۸: ۳۲۷).

## نتیجه ګیري Conclusion

د مناقشې او نتیجې څخه وروستی پایله (Conclusion) دا په لاس راځي، چې د اسلام مقدس دین تل په پاکوالي ټينګار کړی دی، هغه که د کالیو، بدن او یا هم په ټوله کې د چاپېریال پاک ساتنه وي، په دې اړه بې شمېره قرآني ایتونه او نبوي احادیث شتون لري، چې په ترڅ کې موږ ته د سالم او پاک چاپېریال سپارښتنه کوي.

دا چې ولې تل موږ د هغو ناروغیو ښکار وو، چې د چاپېریال د ککړتیا څخه راپیدا کېږي؛ نو لامل یې څر ګند دی، هغه دا چې موږ د اسلام ټول احکام او ارشادات پر ځان نه دي منلي. کله چې د اسلامي ارشاداتو ته په بشپړه توګه غاړه کېږدو؛ نو له شک پرته چې د یو لړ ناروغیو څخه به ژغورل شوي وو.

## وړاندیزونه

۱- په ټولنه کې د دیني علماوو، ښوونکو او استادانو څخه په خورا درنښت هیله کېږي، چې د پاک چاپېریال په موخه عامه پوهاوی زیات کړي، څو ټولنه د مهلکو ناروغیو څخه وساتل شي.

۲- د اسلام د پاک او سپیڅلي دین په ارشاداتو او احکامو بشپړه پوه دې ترلاسه شي.

۳- د اسلام د وقایوي درملنې په موخه دې عامه خبرونې کچه لوړه شي.

۴- د بشپړ اسلام پرځان منلو په لړ کې دې په ژوند کې د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ټول سنت پلي شي.

۵- د چاپېریال د پاکوالي په موخه دې د دولت هر اړخیزې او عملي هڅې زیاتې شی.

٦- په اونی کې دې لږ تر لږه دوه ځلې غسل وشي، د غایط او تشو بولو څخه وروسته دې سم د لاسه لاسونه په صابون او پاکو اوبو پرېمنځل شي.

۷- په ورځ کې دې لږ تر لږه پنځه ځلې مخ او لاسونه پرېمنځل شي، چې هر لمانځه ته په اودسه کې یې ښه انځورولی شو.

## د ماخذونو ليکلړ


۱ - قران کريم.

۲- ابن عابدين، محمد امين.(۱۴۱۲هـ. س). ردالمحتار على درالمختار. ج۱. (ط. ۱).کوېټه: مکتبه حنفيه.

۳- احمدزی، زاهدي.(۱۳۸۰ه. ل).طب د اسلام له نظره. پيښور: افغان پوهنتون.

۴- بخاري، محمد بن اسماعيل.( ۱۴۲۲هـ. س). جامع صحيح البخاري.ج۱.(ط. ۱). دار طوق النجاة: المکتبة الشامله.

۵- بخاري، محمد بن اسماعيل.( ۱۴۲۲هـ. س). جامع صحيح البخاري. ج۸. (ط. ۱). دار طوق النجاة: المکتبة الشامله.

٦- ترمذي، محمد بن عيسى.(ب.ت).صحيح ترمذي. ج۱. پېښور محله جنگي: مکتبه حقانيه.

۷- ترمذي، محمد بن عيسى. (ب.ت). صحيح ترمذي. ج۲. پېښور محله جنگي: مکتبه حقانيه.

۸- الدهلوي، شاولي الله. (۱۴۲۹هـ.س ). حجة الله البالغه.ج۱. کويټه، پاکستان: مکتبه حنفيه.

۹- الزحيلي، وهبه.( ۱۴۳۰ هـ. س). الفقه الاسلامي وادلته. ج۱. محله جنگي، پېښور: مکتبه حقانيه.

۱۰- السجستاني، سليمان بن اشعث .(ب.ت ). سنن ابي داود. ج۱. پېښور، محله جنگي: مکتبه حقانيه.

۱۱- القزوايني، محمد بن يزيد.( ب.ت).سنن ابن ماجه. ج۱. پېښور، محله جنگي: مکتبه حقانيه.

۱۲- القوني، قاسم بن عبدالله بن امير. (۱۴۰٦ه. س).أنيس الفقاء. ج۱.(ط. ۱). جده، سعودي عربستان: دارالوفاء.

۱۳- النېشابوري، ابي الحسين، مسلم بن الحجاج بن مسلم.(ب.ت).صحيح مسلم.ج۱. پېښور، محله جنگي: مکتبه حقانيه.

۱۴- النېشابوري، ابي الحسين، مسلم بن الحجاج بن مسلم. (ب.ت). صحيح المسلم. ج٦. پېښور، محله جنگي: مکتبه حقانيه.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.